# زېرى

پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

چهارشنبه ٥ ــ ٦گڼه دریمه دوره، پرله پسې گڼه ۲٥۳ــ ۲٥٤مه گڼه ۱۳۹٥المريز کال، د غبرگولي (جوزا) ۲٦مه نېټه،۱۳۳۷ هـ . ق. کال د رمضان المبارک۹ مه، ۲۰۱٦زېږديز کال د جون ۱٥.


«پښتو ژبه، د دنيا د نورو ژبو په څېر، د پرمختگ خپل طبيعي او نورمال بهير لري. دا ژبه، خپل دغه طبيعي او نورمال بهير ته پرېږدئ. په پښتو، له ځانه دا سې شی مه ورتپئ، چې هضم يې، د هغې تر وس تېره خبره وي .»

الحاج محمدالله خان افغان(رح)

د خورا پېرزو کوونکي او لورووونکي الله په نامه

سرليکنه

## پښتو نسبي معيار لري

د پښــتو ژبې په اړه، کله نا کله دا خبره اورېدل کېږي، چې معياري نه ده. دا چې دا خبره ســمه ده او که نه، راځئ، يو څه دې ټکي ته ځير شــو، چې ددې تاريخي ژبې، د ژبنيو حقايقو په لړ کې، ددې خبرې اصلي حقيقت پيداکړو. له شک پرته، ددې خبرې کول لازمي بولو، چې په دې ژبه کې، په بشپړه توگه، د معيار ساتل نه دي مراعات شوي او زياترو، په خپله لهجه، سليقه او سويه ليکل کړي دي، مگر څرنگه چې، هر څه، د نسبي اصل تيوري پر بنسټ د مطالعې وړ دي، نو موږ څکه ددې ژبې د معيار په اړه، ددې ټکي يادونه ضروري بولو، چې په دغه ژبه پېړۍ تېرې شــوې ، په لســگونو ، ســلگونو، زرگونو او لکونو نه، بلکې په ميليونونو ټوکه آثار چاپ شــوي دي،

## په ژبو باندې تېرى

خېړنپوه مولاجان ټنيوال

دا به ډېره گرانه وي، چې په نړۍ کې داسې يوه ټولنه، مؤسسه او يا يو سازمان پيداکړو، چې هغه دې، په ژبو باندې د تېري کولو د کرغېړن عمل ننگه، ملاتړ او حمايت وکړي. دا ځکه چې، ژبه د بشري کلتور هغه يواځينی ارزښت دی، چې د انسـانيت تاريخ، فرهنگ او ټولنيز بدلونونه او د هغوی د رامنځته کېدو سببونه څېړي او په خپله پراخه لمنه کې يې رانغاړي، ستايي يې او له يوه نســل څخه يې بل نســل ته، د پوهېدو په موخه لېږدوي . د نړۍ د لرې او نږدې سيمو هراړخيزه پېژندنه او د هېوادونو تر منځ د اړيکو ټينگول او پالل، د ژبې په وسيله تر سره کېږي.

که چېرې په ټولنيز ژوندانه اوانســاني اړيکو کې، د ژبې ونډه غوڅه او رغنده نه وای، نو انســانان به د نړۍ او بشرــي ټولنو په اړه هېڅ نه اســتحصــال لاره بدله کړې او نورې لارې گودرې يې خپلې کړې دي، چې ډېره ښه نمونه يې فرهنگي يرغـل دی. فرهنگي بريـد، ډېر کرغېړن عمل دی او که پر ضد يې په هوښيارۍ سره گام پورته نه شي او مخه يې و نه نيول شي، طبعي خبره ده، چې پـه لومړي سر کې د ژبې اصــلي جوړښــت زيانمنوي او بيا يې له مخې غړوي.

د پوهانو په نظر : «يو څوک مه وژنئ، د مسلک له ساحې څخه يې وباسئ، په خپله مري!»

کله چې يو څوک، خپله مورنۍ ژبه او خپل پېدايشي ــ حق له لاســه ورکړي او يواځې بيولوژيکي ژوند وکړي، زموږ په نظر، تر مړي هم بدتر دي. ددې له پاره چې تر مړو بدتر نه شــو، بايد چې د ژبپوهنې غوښــتنو او اصــولو ته پاملرنه وکړو او عملي کولو ته يې ملاوې وتړو، خو ددې په څنگ کې مو، دې ته بايد پام وي، چې نورو ژبو ته درناوی وکړو.

کـه چېرې، پـه نړيوالـه کچـه سرچينې وکتلای شي، ډېر داســې مثالونه پيداکولای شــو، چې د واکمنو رژيمونو د نـاروا کړنو پـه پـايلـه کې رامنځتـه شــوي دي. دا ډول کړنې، پـه تېرو وختونو کې، يو شمېر آلمانيانو د سربيانو د ژبې په وړاندې تر سره کړې دي. د ژبپوهنې علم، په هر وخت کې، له دا ډول کړنو سره، ســخت مخالف دی او تل په دې هڅه کې ده، چې مخه يې ونيسيــ، څکه د ژبپوهنې علمي لارې چارې، پرنسيپونه او اصول، تل دا غوښتنه کوي، چې ژبــې بــايــد وروزل شي، وده وکـړي، وغوړېږي، پراخې، هنري او علمي شي، د تمدنونو او پرمختگونو د لېږدونې په زړه پورې وسيلې شي او د مړينې له ترخې څپېړې څخه، دتل له پاره، په امان کې وي.

نو څنگه کېدای شي، چې په بېلابېلو برخو کې، دا په ملیونونو ټوکه کتابونه دې ، بې معیاره چاپ شوي وي.

خبره دا ده، چې تر اوسه پورې، ددغې ژبې په لیکنو او آثارو کې، یو نسبي معیار مراعات شوی او شته، ځکه ددې ژبې د لیکدود، املا او انشـا په برخه کې، ددې ژبې د څېړونکو او پوهانو تر منځ، رسـمي او علمي ناستې شوې دي ، پریکړې یې اعلان شوې او په هغو پریکړو، ،تر ډېره بریده عمل هم شوی دی او د پام وړ سمون هم راغلی دی.

دا چې، نن سـبا، د یوې سـیمې د لیکوالو د قلم په ژبه ، د بلې سـیمې لیکوال پوهېږي او بې ستونزو یې لولي، دا د همدې پریکړو او نسبي معیار برکت دی. که چېرې یو لیکوال، په سـهیل کې لیکنه وکړي، په شـمال کې لوسـتونکی پرې پوهېدی شي او هغه په ارامۍ سره لوستلای شي. همداراز، که په ختیځ کې،کوم اثر ولیکل شي، لویدیځ مېشـته لوسـتوال یې، په ډېرې اسـانۍ سره ویلای شي، موږ له دې معلوموو، چې پښتو ژبه، د لیک لو ست یونسبي معیار لري او د بشپړ معیار د ساتلو او مراعاتولو له پاره، دا اړینه ده، چې په لومړي سر کې، ددې ژبې لیکدود معیاري کړو ، کوم چې په بشـپړه توگه، د معیاري پښـتو د رامنځته کولو او لیکلو له پاره، حیاتي اهمیت لري او ددغې لرغونې، پراخې، متمدنې، رسـمي، ملي او ولسي ـ ژبې، په پرمختیا او پراختیا کې وړ مرسـته کولای شي. ددې کار له پاره، د لیک په برخه کې، ځاني سلیقې له پامه غورځول په کار دي او د دې ژبې د ډله ییز اصـل مراعاتول، د ټولو له پاره بېخي لازمي بریښـي. ددې ژبې ټولې لهجې محترمې دي، مگر له ټولو څخه، د یوې معیاري پښـتو ژبې جوړول، د ټولو له پاره، ډېره گټوره او ارزښـتناکه خبره ده. په پښـتو کې، د اکاډمیک گرامر لیکل، د اکاډمیک قاموس لیکل او د ادبي - کلتوري ټولنو او د علمي او اکاډمیکو، پوهنتوني ، ښوونیزو او رسنیزو مرکزونو اوخپرونو له لوري، نور وړ کارو نه او حکومتي او ولسي ـ ملاتړ، ددې ژبې د بشپړې معیاري کولو په لاره کې، بنسټیز اغېزلري.

□□□

پو هېدای، پـه اولس کې بـه لـه پرمختللې تکنالوژۍ څخه گټه اخیستل هم نه وای ممکن او دا امکان به هم نه وای، چې پوهانو دا سـتره نړۍ یو کلی بللې وای .

له بلې خوا، ژبپوهنه د ژبې علم دی، دا پوهه، د ژبو په حریم او حقوقو با ندې تېری کول نه مني. ژبپوهنه پر دې با ندې ټینگار کوي، چې باید دژبو سمه، روغه او سالمه پالنه وشي او د هغو لاملونو پرضـد سـخته مبارزه وشي، چې د ژبو حقوق تر پښـو لاندې کوي او د پرمختگ مخه یې نیسي ــ. په دې ځای کې، دا پوښـتنه راولاړېږي، چې اصلي ستونزه په څه کې ده او په ژبو باندې ظلم اوتېری، د کوم ناوړه هدف له پاره تر سره کېږي .

سره له دې چې ،الله تعالی (ج)، انسـان د مخلوقاتو اشرف پیداکړی دی او ژبې یې، د دوی نعمت گرځولې دي، خو کـه چېرې د بشرـي ټولنو تاریخ ته وکتل شي، نو سـړی وېلای شي، چې په ډېری انسانانو کې دا خاصیت شته، چې ځان تر نورو لوړ بولي او تل په دې هڅه کې وي، چې ځینې انسـانان او یوشـمېر بشري ټولنې، له دغه الهي نعمت څخه بې برخې کړي، تر څو پر نورو باندې برتري او تفوق ولري.

موږ په نړۍ کې ډېرې داسـې بېلگې پیداکولای شـو ،چې ظالموځواکونو، د مظلومو ا ولسـونو ژبې ځپلې دي، د کـارونې لـه ډگر څخـه یې ایسـتلې او په پای کې یې، د مرگ تر پولې پورې رسولې دي. په دې عمل سره یې، د خپلې خوښـې ژبو ته د کارونې او ودې لاره هواره کړې ده. دوی په دې ناروا کړنې سره، د انساني کلتور تر ټولو لوی او اسـاسي ارزښـت له منځه وړی دی او په هېڅ صورت د بښنې وړ نه دي .

دا ډول کړنې، دوی د جنگ جگړو او مستقیمې لاسـوهنې له لارې سر ته رسـولې دي، چې کله حالات بدل شـوي دي، ظالمو قوتونو هم د

# فیسبوک او لیکوالي

څېړوال محمد نبي صلاحي

نیمه پېړۍ مخکې، د حساب وړ پښتنو لیکوالو شمېر د پنځوسـوکسـو په شـا وخوا کې و، یو چا به چې یو څه لیکل، هغه به زیاتره له پښـتو پرته، د نورو په ژبو کې و. د دري او اردو ادب گڼ شمېر آثار ، د پښتنو لیکوالو د قلمونو ایبره او ثمره پېژندل شوي دي، خو په پښـتني چاپېریال کې، د سـیاسي گوندونو او ادبي ټولنو په جوړېدو او د علمي ټکنالوژي په راتگ او پرمختگ سره، د پښتنو لیکوالو شمېر، ورځ په ورځ دومره ډېر شو او ورو ـ ورو یې ،دومره وده او تکامل ومو ند، چې د نه منلو وړ خبره ده. اوس که موږ دا ادعا وکړو، چې په اوس وخت کې د پښـتنو لیکوالو شمېر لسگونو او سلگونو ته نه، بلکې زرگونو، لکونو او ان ملیونونو کسانو ته رسېږي، ښایي چې مبالغه به مو نه وي کړې، ځکه د لیکوالۍ اسـانه تعریف، په پښـتو ژبه د یوه ټوټه متن لیکل او لوسـتل دي او دا متنونه، نن سبا، د فیسبوک له لارې، د میلیونونو پښتنو فیسـبوکیانو تر منځ ، په پښـتو ژبه لیکل کېږي او یوه بل ته استول کېږي.

په دې وخت کې ، چې دغه ټکي لیکو، ما ته د یوه پوه، هغه قېمتي خبره، بیاـ بیا را په یاد ېږي، چې په ډېرو پخوا وختو کې به یې، د لیکوالۍ او لیکوالانو په اړه کوله او هغه داسې وه :

« ــ لیکوالي باید د هر چا زده وي. په خاصه توگه د مکتبیانو له پاره بېخي ضرور ده. د هغه په باور، له انسـان نه په ژوند کې، چې څه شی پاتې کېږي، هغه خاطرې دي، نو ځکه مهمې دي او با ید ولیکلای شي.»

هغه به، د لیکوالۍ ډگر ته، د رښتیا میدان وایه او تل به یې دا خبره کوله، چې باید لیکوال، په خپله لیکنه کې سنجیده وي. له دې امله یې، هوښیار لیکوال ته، د سنجیده لیکوال خطاب هم کاوه.

فیسـبوک، د ژورنالیـزم پـه نـړۍ کـې، د چـټک اثـر غورځولو، ډېره گټوره وسـیله ده. په دوی کې ډېری کسان داسې دي، چې لیکوالي به یې مسلک نه وي، خو په پښتو ژبه متن لیکلی او لو ستلی شي او په عام ډول، د لیکوالۍ دا طرز، د لیکوالۍ یو ډول دی. خو په دې توپیر، چې د فیسـبوک له لارې د پښـتو متن لیکل کله ـــ کله د انگلیسي او دري (کي بورډ ونو ) په وسـیله تر سره کېږي، له دې امله، په دغو متنونو کې ډېرې املایي تېروتنې رامنځته کېږي او هغه د چا خبره، پیغامونه یې، په گوډه ماته پښـتو باندې، یو بل ته رسـېږي. له دې امله، په دغو متنونو کې، د اصـلاح او سـمون راوسـتلو په موخه، زیات غور او ځیرکۍ ته اړتیا ده. نو ځکه به دا ښـه وي، چې د فیسـبوک له لارې پښـتانه پښـتو لیکونکي، په بېړه نه، بلکې په ورو او ز یات غور سره، یو بل ته پیغام ولیکي او وې لېږي، پـه دې ډول، د گڼو املایي تېروتنو مخه نیول کېدای شي. څومره به ښـه وي، چې دو ستان، په پښتو ژبه کې، پښتو لیک دړه (کي بورډ ) وکاروي او که څوک وغواړي، تر ډېره د پښتو کي بورډونو له لارې دا سـتونزه حل شـوې هم ده. د فیسـبوک لرونکی او لیکونکی، باید له معیاري لیک نښو او د پښتو د تورو او بیا په ځانگړې توگه ،دپښتو یاگانو له دقیق اسـتعمال سره پوره بلدتیا ولري او په عملي لیکنه کې، ور ته کلکه پاملر نه وکړي. په عمومي ډول،د فیسـبوک په غوره اسـتعمال کې هم، باید غور وکړي او له دې مهمې رسـنیزې وسـیلې څخـه، مثبتـه او هراړخیزه گټـه واخلي او خپـل ارزښـتناک وخت، په چټیاتو،عبثیاتو او فضـولیاتو با ندې و نه لگوي. د فیسـبوک له لارې د ر ښا او نېکمرغۍ ویښـوونکي خبرونه، جوړوونکي نظرونه او پیغامونه، د ټولو لوسـتونکو زړونو ته لاره ومومي او په خپل ژوند کې، د یوې مثمرې تجربې په توگه، ور څخه استفاده وکړي.

# ګاڼه او پسول د بهايي جان په شعر کې

څېړنپوه علي محمد منګل

ګل بهايي جان یم د افغانستان
ستا مينې رسوا رسوا کړم تر هندوستان

په بشري ټولنه کې، د ګاڼې او پسول استعمال د انسان د ژوند له پیل څخه را دود شــوی دی، دا ځکه چې بشر ــ په فطري ډول، له ښــکلا سره مینه لري . د همدې عالي هیلې له امله، د بشر د تاریخ په بېلابېلو دورو، پېړیو او زمانو کې، انسان د ځان د سینګارولو او ډولي کولو له پاره، پسول او ګاڼې کارولې دي. د ګاڼې مینه والو په زیاته لېوالتیا سره، د هغې د لاسته راوړلو له پاره هڅې او کو ښښ کاوه، ډېر زیار به یې یو ست، چې ښې او ښـکلې ګاڼې پر ځان پورې، ځوړند او استعمال کړي، چې په دې سره ښکلې وبريښي.

له ځنډنو او لرغونو زمانو څخه ګاڼه او پسول، له قیمتي فلزاتو، لکه سرو او سـپینو زرو څخه جوړېدل، چې د ګاڼې په ډولونو او انواعو کې لښتې،ګوتې، غاړه کۍ، بازوبند، نتکۍ، پایزیب، وښي، چارګل او داسې نور یې ډېر ښایسته او رنګین جوړول.

پــه ځنډنو کینـدنو کې، چې د سـیمې پـه هېوادونو کې د افغانستان په شمول سر ته رسېدلې دي، په هغو کې پسول یاد شــوی دی. ددغو کیندنو په پایله کې، چې کومې ګاڼې او پسول تر لاسه شوي دي، له میلاد نه درې زره کلونه د مخه د زرګري صـنعت، د پسـول او ګاڼې د اسـتعمال څرک او نښـه ترې لګېږي. په اسـلامي دوره کې، د زیوراتو جوړونې خاص رنګ درلود، چې ځانګړې نښــې او خصــایص لري. په دغه باب د یادونې وړ ټکی دا دی، چې د تاریخ په اوږدو کې د پسول او ګاڼې شکل او له ګاڼې څخه د استفادې توکو دومره بدلون نه دی کړی او تر اوســه ګاڼې هغو ښــکلو او ښـایسـته موادو او شــکلونو ته ويل کېږي، چې ښــځې یې په غوږو ، لاســو، څنګلو ،مړوندونو، ټنډه، پوزه او د پښــو په پاړکیو کې اســتعمالوي او اوس هم، د ګاڼې اســتعمال په مینه سره رواج لري.

لکه چې وویل شول، پسول او ګاڼه له لوړو قیمتي فلزاتو (سرو ـ سپینو زرو) څخه، په مختلفو رنګونو او ډولونو سره جوړېږي، له همدې امله ګاڼه اقتصــادي ارزښــت هم لري. دا په دې مفهوم، چې پسول په اصل کې، د یوې غوره او زیاتې اسعاري پانګې او خزانې په توګه، د یوې کورنۍ شــتمني هم خوندي ساتي .

دا هم د ویلو وړ ده، چې ووایو، په پښتنو کې د ګاڼې استعمال، د قدر او مینې وړ دی، پېغلې او ښــځې، په تېره بیا،ناوې یې د واده په شــپو او ورځو کې، د دود له مخې په ز یا ته ا ندازه اســتعمالوي، په اســتعمال سره یې ددې له پاره، چې ښــکلې ایسي، علاقه او مینه هم ور سره لري. په پښتو لنډیو کې هم، د ګاڼې او پسول په اړه، ګڼ یادونه شته، لکه دا لاندې لنډۍ :

د ګاڼې ډکه غېږه ورکړه
که دې جانان په ځنکدن وي روغ به شینه

بهايي جان د پښــتو او دري ژبو د یوه ځلېدونکي شــاعر او لیکوال په توګه، په خپلو شــعرونو کې، د یوه کلتور پوه او فولکلور پېژندونکي په توګه، په خپلو ســوز لرونکو اشــعارو کې، د پســول او ګاڼې یاد هم راوړی دی، په لاندې غزل کې یې، د پښــتني پســول په اړوند، داســې یادونه کړې ده، چې د پښــتو ژبې د خدمت په لار کې دده د لوی نیت، په زړه پورې نښــه بلل کېږي او د پسـول په اړه تشـبیهاتو کې یې نوښـت او رنګیني لیدله کېږي. راځئ، دده شعري بیان ته ځیر شو :

ستا په لاس انګشتري دی
او که ستوری مشتري دی
دا هلال که سپین وښی دی
چې په لاس د ګلپري دی
زهره ستوری دی ځلېږي
که شین خال دې اثري دی
دا مریخ که سور پېزوان دی
چې پر شونډو پر پري دی
عطارد که غاړه کۍ ده
ستا تر غاړه زر زري دی
سپین جبین که زیړی لمر دی
جهان واړه انوري دی
رڼايي د ښکلي مخ ده
نه شمسي نه قمري دی
زحل ستوری که چارګل دی
چې الماس یې امیري دی
ځنې څه بهايي جانه !
سخت مزاج یې افسري دی.

---

# په پښتو لنډيو کې د سولې پيغام

څېړنپوه محمد عارف غروال

**د تورې سل پرهاره روغ شي**
**د ژبې زخم تر قیامته پورې وینه**

رښــتیا خبره دا ده، چې د ژبې په واســطه، د ترخو خبرو له امله زړونه خپه کېږي او ورو ورو دغه خپګان په تاوتریخوالي او شــخړو کې ځان را څرګندوي. د سولې، امن ،انساندوستۍ په اړه د پښــتو هره لنډۍ، پر خپل ځای ځانګړې ارزښــت لري او کوم پـیغـام چې لـه ځـانـه سره لري، اوریدونکي دې ته را بولي، چې د تاوتریخوالي او ناخوالو پر ځای مینې، محبت، خواخوږۍ او ورورګلوۍ ته مخه کړي، تر څو په دې توګه، په انســاني ټولنه کې په عامه توګه او په افغاني ټولنه کې په ځانګړې توګه، د انســاني لوړو صــفاتو او ځانګړتیاوو په لرلو او خپلولو سره، خپل ټولنیز ژوند پر مخ بوزي.دلته به د پښــتو یو شــمېر هغه لنډۍ را واخلو، چې په هغو کې په لوړه کچه، د جنګ جګړو او تاوتریخوالي په وړاندې، لنډیو خپل تاریخي رسالت سر ته رسولی دی :

اختر ته ځکه خوشحالیږم
چې مرور جانان به ما پخـلاکـوینه
اختره خومره بختور یې
چې دوه یاران یو بل ته غېږې ورکوینه
اجر،جزا د عمل حق ده
څوک چې د نېکو عمل کړي نیکي به وړینه
آسمان ته لار د ختو نه شته
دځمکې سر دې را ته بـلې لمبې کنه
آشنا دې بد پر ما ثبوت کړي
بـې بدو زړه له ما نه ولې بدوینه
بخت به مې هله را بیدار شي
چې مـرور آشنا پخلا را سره شـینه
بدي د بدو خلکو کار دی
څوک چې نیکان وي هغوی بد نه قبلوینه
پښتانه واړه سره یو دي
ورک دې نفاق شي چې به دوی جلا کوینه
د ښو ټوپکو وستاکاره
د ښو ځوانانو خون به ستا په غاړه وینه
تورو ټوپکو کاریګره
که ځوانان مړه شول خون به ستا پر غاړه وینه
په چونۍ جنګ دی ډزې کېږي
ګولۍ وریږي وینو رنګ کړل وطنونه
ټوپکو بیا غاړې رنې کړې
رنجکو وسول د ځوانانو لړمانونه
زلمیه بس کړه جوړه وکړه (۱)
مومندې کونډې شوې ښېرې در ته کوینه
حاجي میرویسه جنتي شې
موږ د ګرګین له ظلمه تا خلاص کړي یونه
د جانان زړه دې له ما بدکړ
د ژبې سره په قیچې دې پرې کومه
د خیبر جنګ چې مې په زړه شي
له دواړو سترګو مې د وینو څاڅکي ځینه
د غم لړم به دې کړم کړي
د دښمنۍ په سوړو مه وهه لاسونه
راځه راځه چې روغه وکړو
زما ستا څوک دي چې به موږ پخلا کوینه
عبدالمتینه نور یې بس کړه
ډېرې دې کونډې کړې ښېرې در ته کوینه
هلک ته سپینې جامې ورکړئ
تور ې جامې یې مردکو خوړلې دینه
جانانه هلته دې خدای مل شه
چې د ټوپکو له خولو خیږي شنه دودونه

پورتنۍ هره لنډۍ چې په ژوره توګه و څېړل شي او غور پرې وشي، نو دا ترې جوتېږي، چې په یو نــه یو ډول پــه کې د ســولې، ورورولۍ او لــه تاوتریخوالي څخه د بیزارۍ پیغام پروت دی. په دې توګه، که موږ د پښــتو لنډیو په پراخ ســمندر ورګډ شــو، په ســلګونو داســې لنډۍ به مخې ته راشي، چې له جنګ جګړو او شــخړو څخه به اوریدونکي او لوســتونکي ســولې، امن، ورورۍ، عزیزولۍ، محبت او الفت ته را بولي او دا ددې ادعا یو غوره ثبوت دی، چې افغانان له جنګ جګړو او تاوتریخوالي څخه، سوله او امن ښـه او غوره بولي او د زړه له کومې دا غواړي، چې په هېواد کې یې ســوله او امن وي، تر څو په ډاډمنه توګه، د خپل ورځني ژوند ټولنیزې چارې، په ښه توګه پر مخ بوزي. په دې هیله، چې په ګران هېواد کې مو جنګ جګړې پای ته ورسېږي او د سوله ییز ژوند ستر نعمت مو په برخه شي.

---

(۱) زلمی د منګلو د موسی خېلود قام مشر ــ او سپین ږیری و.

# په متلونوکې د مضمون آفرينۍ قوت

څېړندویه ملکه مشتري

په پښتـو شـفاهي ادبیاتوکې متلونه هم د لنډیو په څېرډېرپخوانی قـدامت لري، پـه اولســونواو ښـارونوکې د بېلابېلو وګړوله خوا ویل شــوي. اصلي ویونکي يې معلوم نه دي، خوسينه په سينه له يونسل نه بل نسل ته لېږدېدلي دي.

هرمتل يوه ريښتيني او واقعي کېسه لري د پښتنوپه هر مجلس، ټولنیزواو اجتماعي غونډوکې د موضــوع په اړوند خامخا ويل کېږي. د متل په وړو وړو جملوکې ډېر پراخ موضــوعات ځای شوي دي.

دا چې بشراوږد تاريخ لري له همدې وجې په متلونوکې د مضــمون افريني قوت په ډېره لوړه کچه موجود دی او دهري موضــوع په اړه خورا غني پانګه لري.

متلونـه د ملتونو د ملي تجربو دعملي نتيجي فکري نچوړ دی اود خلکوله خولوهغه سپېڅلې، پاکې، معنالرونکې اولویې لويې، خولنډې لنډې جملې دي.، چې د اولس د ثقافت، فرهنګ ، علم اوپوهې کړو وړو ژوندی نمونې اود اولس پوهانو دلوړو افکارو زېرمې دي.

متلو نه د اولســونود ملي ژبو په بليغواوفصـيحو جملوکې خوندي کېږي اود خپل فکري او ادبي ارزښــت له امله د دې متلونو د غړو په ســينو اوحافظوکې ســاتل کېږي اوبيا خوله په خوله له يونســل نه بل نسـل ته لېږدي اوخلک يې د ورته پېښو او حالاتود تاييد اوتثبيت لپاره وايي.(۱)

د هر اولس په شــفاهي ادب کې متل (ضرب المثل)مهم ځای لري. د بډايو ژبويوه ځانګړنه داده، چې په متلونو هم بډای وي. متل دخبرو يوه ډېره لنډه جمله ده، چې د معنا له مخې بشپړ اود مضمون اود مورد له مخې عام وي.

د متل بلاغت او فصـاحت په دې کې دی، چې د فورم لـه مخې لنډ اوموجزد معنا لـه مخې مسـتعاراوکنايه د افهامو له مخې ســاده او د عام فهم افادې له مخې په هدف رسا اوسم لګېږي.

ماکســيم ګورکي د متل په اړه داســې وايي: «په لفظي ســاده ګی کې يې ترټولولويه هوښــياري اوحکمت ځای شوی دی، متل او سندره هميشه موجزوي، خود بشــپړ کتاب هومره تفکراو احساس په کې وي»

د اولسونوپه ژبوکې په ځانګړې توګه د ګاونډيواو ارتباط لرونکواولســونو ترمنځه متل د مضــمون له مخې بريد نه مني اوپه يومضــمون اومفهوم ډېر متلونه پيدا کېداشي چې يوتربله ژباړه او اخيستنه ښــکاري، که څه هم ښـايي دخپلوژبواصلي مال وي.لکه: په دې بېلګوکې:

پښتو: (خوک چې بل ته کوهي کني –په خپله به يې په کې شپه وي)

دری: (چاه کن را چا در پيش است)

عربي: (من حفربيرا لا خيه-قدوقع فيه) (۲)

پــه پورتنيو متلونوکې د مضــمون افريني قوت روښـانه دی. که څېرې يوکس بل چاته ســتونزې جوړ وي اوهغه په کې راښـکېل کوي، نوضروربه يوه ورځ به خپله له ستونزو سره مخامخ کېږي.

د مضمون له مخې هرمتل يوه ګټوره وجيزه ده. د دوی روحيات اوټولنيز ژوند په کې په ښــه توګه ځلېږي، اود اولسي ادب هغه بډايه پانګه ده، چې د ټولنيز ژوند ټولې خواوې په کې ځرګندې شوې دي د ميني اوښکلا، وصال او بيلتون خوښـی او خپګان، اخلاق اوتـاريخ، جغرافيې اومـذهـب، اقتصــاد او عدا لت، هېواد پالنې اونورو فکرونو مخزن دی.(۳)

په متلونوکې د مضمون افريني قوت د ښه روښنتيا له پاره به په لاندې بڼه څونمونې روښانه کړو:

اوسپنه چې څومره ټکيږي ، هغومره پخېږي.

په دې متل کې د مضــمون افريني قوت روښــانه دی. هرڅومره چې يوانســـان پــه ژونـد کې د ســختيواو تکليفونوسره مخامخ کېږي په هماغه کچه يې د ژوند د نورو ستونزو پروړاندې مقاومت او تجربه ډېرېږي.

پرهغه دې خدای ميلمه که چې ميلمه يې نه وي ليدلی. (۴)

دا پورتني متل په پښتنوکې ډېر مشهوردی. داځکه چې پښتانه د ډېرپخوا راهيسي ميلمه پال خلک له دې متل څخه ډېرې معناوې اخيســتل کېږي. ځينې ميلمه پال خلک د نيک ســلوک او ورين تندي اوخوشـــاله مزاج ترڅنګ د پيرزوينې له مخې د خوړوپه برابرولوکې د ډېراخلاص نه کار اخلي او ځينې بيا د ميلمه سره د نابلدی په وجه يعني چې له چاسره دومره تګ را تګ نه لري، نونه پوهېږي چې ميلمه ته څومره اخلاص په کار دی او داسې نور...

اول مېړانه په سيالی وه ــــ اوس سپيتانه په سيالی ده. (۵)

کله چې د يوې ټولنې په تېرونو او کورنيو غړوکې کومې اخلاقي او اجتماعي ستونزې رامنځ ته شي، نوځينې وګړي غواړي چې پــه زښــتو اونــاروا اعمالوسره مبارزه وکړي، نو د دې متل په ذريعه کولی شـوو، چې د يو شـمېر نيکواو اخلاقي کړنو او يادونو په هکله هغوی خبرکړو. مثلا : پخوا به خلکو د اولســونوکې د خيرپــه کــاروونوکې د جرګواومرکو د سمو پرېکړو په کولو سيالي کوله، چې د تل له پاره يې د مېړانې نوم پاتې شي، خو اوس پرعکس د ټولنې ځينې وګړي د واده پــه دودونو اوځينو نوروبرخو کې د ډېرو لګښــتونو سيالي کوي.

اوسپنه په اوسپنه ماتېږي.(۶)

له دې متل څخه مراد دا دی، چې د قدرت او زورپر وړاندې بايد د لويواوقدرتمنوخلکو څخه مرسته وغوښتل شي. څرنګه چې په اولسونوکې ځينې ملکان او خا نان يا د قدرت خاو ندان د بېوزلو وګړو څمکې لاندې کوي، نوهغوی دې ته اړکېږي، چې د نورو واکمنو په مرسته خپل حق ترلاسه کړي.

د سلوبللو ځای سته ـ د يوه نا بللي ځای نسته.(۷)

په دې متل کې هم روښــانه ده کله چې په يوه ځانګړې مېلمستيا يا رســمي غونډه کې، د رابلل شــوو وګړوو د ګډون ځای وي ،خو د يونا بللي ځای نه وي، داځکه چې د غونډې د اســاس اوشرايطو له مخې به ورته اړتيا او ضرورت نه وي.

د پايلې په توګه به داسې ووايو، چې متلونه، د پښتو شـفاهي ادبياتو ډېره لويه برخه جوړ وي.

متلونه داسې جملې دي، چې د خلکو په منځ کې د يو مفهوم د تاييد او کره کولو په خاطر په ځانګړې ډول کارول کېږي. د متلونو په وسيله د يوې ټولنې ډېر پټ رازونه روښـانه کېږي. دا حقيقت په وروسته پاتې غرنيو سيمو کې چې ژبه اولهجه يې د نورو ژبو تراغېزې لانـدې نـه وي راغلې، ښه عملي کېږي.

**اخځليکونه**


په دې مطلب کې، له دغوآثارو څخه ګټه اخيســتل شوې ده :

(۱)ـ د استاد حبيب الله رفيع، د متلونو پر کيسو يوه بله کيسه(ناچاپ)

(۲)- دسرمحقق دو ست شينواری، ، د پښتو د اولسي ادب لارې،

(۳)- د غوټی خاورې، د پښتو شفاهي ادبياتو شکل اومضمون،

(٤)- د استاد عبدالرؤف بېنوا، پښتومتلونه،

(۵)-د محمد دين ژواک ، د پښتومتلونه،

(۶)- د استاد عبدالرؤف بېنوا، پښتومتلونه،

(۷)- پورتنی اثر


## د مينې دنيا

الحاج غلام عمر يوسفزی

ما چې د مـيـنـې دنـيـا وکـتـلـه
دا دنیاګی را تـه بـېـديـا ښـکـاري

مـيـنـې خـو ډېرې دي او ډېرې بـه شي
د اشــنـا ميـنـه پـرې ســيـوا ښـکـاري

د اشــنـا دوه ســترګې مجـنـون لـه پـاره
کلـه دنيا کلـه عقـــبـا ښـــکـــاري

پـه ســپـيـنـه خولـه کې يې شراب الطهور
پـه ســورکو شـونډو يې رسـا ښـکاري

پـه تـوره شــپـه کې يې د زلـفـو مـدام
د ښـايـســتـه مخ ښـکلې رڼا ښـکاري

دا نـرۍ مـلا يـې د چـنـدړو لښــتـه
د ســينې باغ يې پـه ښـکلا ښـکاري

هــره ادا يــې د ســـتـايـلـو وړ ده
چـې جـانـبـين سره رضــا ښـــکـاري

غـلام عـمـر يـوســفـزی څـکـه خـپـه
چـې يـې لـيـلا د غـرو پـنـاه ښـکـاري

امريکا۔ شوګرلينډ

## سوله

زه مې هېڅکله ځـان ښـلـی نـه شـم
د ســولې کـار چې زه کولای نـه شـم
زه شـــاعـر نه يمه او هېڅ نـــــه يمـه
څکه چې ســو له را وســتلای نه شـم

څېړندوی فريدالله نوري

څېړندوی عبدالغفور لېوال

# زه خوشال...

راغلم بیا، چې دخپل ولس پوښتنه وکړم
د دې خپل نارامه روح خوښنه وکړم
د څلور پېړیو ګرد مې دی ځنډېدلی
چا ویل چې ځینې خلک رسېدلي
د سپوږمۍ په پلوشو اسمان ته تللي
نور نو هاغه د پرنګ ټوپک زوړ شوی
او شراب پرتګالي نشته په هند کې
د مغولو پادشاهي ده ړنګه شوې
رنتهبور له بېخ وُبنه نړېدلی
راغلم بیا چې دافغان پوښتنه وکړم
خوعجیبه زمانه، عجیب دستور دی
یو سپین ږیری غضبناک بې انځورکړی
په تصویر کې یې غوسه ښکاري دوه سترګې
داوړي شاته یې ښکاري پره داره
ښه تېره نیزه ولاړه، تر ده هسکه
او پرسر یې پولادي نیم منی خول دی
پرې ولاړې هسکې مناري دي
دې بوډا په یوه ډال ده تکیه کړې
تر ملا پورته یې د توري قبضه ښکاري
تر یو اړخ یې دتېرو غشو کڅوړه
خدایزده بل لاس کې یې څه د جنګ سامان دی؟
وایي: دا زموږ نیکه خوشال خټک دی
چې هر چا ته په خوله ډک لکه ټوپک دی
په دېوال هم د مکتب په کتابو کې
په کابل او د خیبر په هسکو غرو کې
زه حیران یم خپل شامبت او خپل قسمت ته
د خپل ولس ناسم خیال، نیمګړې نیت ته
زه شاعر ومه د مینې او دحُسن
زه حکیم د زمانې ومه، عاشق وم
دارښتیا ده، چې د ولس په ننګ ولاړ وم
له مغول سره یو لاس او بل ګرېوان وم،
خو له تورو او له غشو سره وران وم
ما دستار و د مشرۍ په سر ترلی
(د دستار سړی) مې وښووده خپل ولس ته
زما د وسپنې په خول کې زړګی تنګ و
له نیزو له تورو کرکه مې په زړه وه
د حکمت او عشق خبره مې په خوله وه
هغه سر چې د ښکلا دربار ته ټیټ و
اوس پرې ایښي پولادي خولۍ له پاسه
د حکمت دستار ځېرلی زماني دي
زما د ولس د قهرجن مزاج له لاسه
د اسمان هسک ته ختلي خلک نور دي
افغانان لا هم د جنګ په غم نسکور دي
هېڅ د عقل، د ډوډۍ مشرۍ یې نشته
د سیاست او د روزۍ مشرۍ یې نشته
لا شرمېږي نوم د مینې په خوله نه وړي
خو د وینې بهولو ته ولاړ دي
ما د توري او دننګ په نامه ستایي
او په خپله بس د جنګ په نامه پایي
زما په هر کتاب کې زر د پند خبرې
یو له بل سره د مینې ها سندرې
بس دوی ټولې هېرې کړې دي بېباکه
تش د جنګ په کاروبار کې دي چالاکه
زما کرکه له دې خپلې ځېرې کېږي
له نیزې نه مې اندام اندام رېږدېږي
د مغولو د کاپرو د پرنګو
د اسونو د پښو غبار ته ګوره
چې زما په قبر څو لوېشتې انبار دي
د افغان کوڅې ویجاړې کور یې ړنګ دی
ژاړي وایي چې دا ټول لاس د پرنګ دی
له کتاب او له قلم سره یې ورانه
نه د کار شو نه د زمکې نه د ځېر
لا یې خپل تربور ته تاو دي بربت د فخر
نه شرمېږي لا په خپل ناولي فقر
د پنجاب او د مغول ډوډۍ ته ناست دي
د بل ګټې ختې پر مخې لا ملاست دي
څمه څمه بیا به رانه شم دې ولس ته
چې وښلی لا په (زي) دی یا په (خېل) دی
د غیرت په نامه ولړه کې لا ښکېل دی
چې پوره څلور پېړۍ کې هوښیار نه شو
دغه ولس زما په چیغو بېدار نه شو
چې لا هم په توره نازي، په جنګ وياړي
انسانیت ته دغه قوم په کار نه شو

۱۳۹۳ / ۲/ ۱٦



خوشحال خان خټک

څېړنوال محمدنبي صلاحي

# کتاب په لاس انارګل شپون

(د کوچنیانو له پاره کیسه)

و، نه و، یو هلک و، انارګل نومېده. هغه د یوه کوچي زوی و. پلار یې د مېږو او پسونو لویه رمه ور ته اخیستې وه. انارګل به هره ورځ، دغه رمه پېوله او ښه لوی ډانګ به یې، په غاړه پسې اړولی و. د رمې له شا به یې، د ډرې اوکښې ناړې پسې وهلې. مګر دغه شپون، له نورو شپنو نه ډېرتوپیر لاره .

د ده فرق له نورو شپنو سره دا و، چې انارګل به له خپلې رمې سره، خپل کتابونه، قلم او مشوانۍ ګرد له څانه سره ګرځول. ټول به یې شاته، په څادرکې، پسې اچولي وو. ښې پاکې کتابچې او د لرګي دړه یې هم لرله. په رښتیا چې، انارګل ډېر هوښیار او د لوړ همت خاوند ما شوم و. دی لا په ماشومتوب کې، د وخت په اهمیت پوهېده او د راتلونکي لپاره یې، فکر کاوه. تل به یې، زموږ ښوونځي ته نژدې، د لویې لارې په خوا کې، خپله رمه پېوله او یو کتاب به یې په لاس کې نیولی و.

هغه شپون و، د مېږواو پسونو د رمې پوول یې، د وخت مجبوري وه، مګر له لیک لوست، قلم او کتاب سره یې، بې کچه مینه او شوق و.

کله به چې موږ ښوونځي ته تلو او انارګل ته به ور ورسېدو، هغه به زموږ د بایسکلونو ښکرونه ښه کلک ونیول، له سلام اچولو، پوښتنې او روغبړ کولو نه وروسته به یې، خپل کتابونه را ته وغوړول او د هر کتاب یونیم ټکی او یو نیم مخ به یې را نه زده کاوه. انارګل زما د ښوونځي د لارې، له ټولو زده کوونکو نه ، جلا- جلا کتابونه شروع کړي وو.

په رښتیا، چې انارګل ډېر هوښیار، سخت څېرک او زیارکښماشوم و. موږ ټولو ته به یې، د معلم صاحب، معلم صاحب نوم اخیست. موږ به ددغه نامه په اخیستلو سره، من من غوښه اخیسته او له ډېرې خوشحالۍ به، په جامو کې نه ځایېدو.

څه سر به مو خوړوم، شپې او ورځې وتې، انارګل په پای کې، په ټولو سبقونو کې، تر موږ ټولو لایق شو. له موږ نه به یې داسې سختې پوښتنې کولې، چې زما د لارې زده کوونکو همځولو به، د هغه ټولو پو ښتنو ته، سم او منا سب ځوابونه، نه شوای ورکولی.

انارګل په دغه سپیره ډاګ کې، د مېږو او پسونو په لویې رمې پسې، دا سې ښکلې لیک او لوست زده کړل، چې زموږ ټولو خط، ده ته نه رسېده. هغه په حساب کې تر کولکولېټرتېز و، بېخي د خپل و خت کمپیوټر و ،کمپیوټراو د خط کښې خو خبرې مه کوه.

په پای کې، انارګل دومره په مخ پسې ولاړ او دومره لایق شو، چې موږ به دده د پوښتنو له ډاره، په دغه لار نه ورتلو، بېخي به مو لاره ترې چپه کړه. زما د لارې ملګرو به، په خپل منځ کې سره ویلې، چې که انارګل له موږ نه سختې پو ښتنې وکړي او موږ سهي ځواب ور ته و نه وایو، دا خو زموږ لپاره ډېر لوی شرم دی!

# د تخيل ډولونه

پوهيالی سيداصغر ارمل هاشمي

د شعر تر ټولو مهم او ا ساسي توک تخيل (Imagenation) دی، ځينې ادب پوهان د تخيل پر ځای (تخييل) کلمه غوره ګڼي، خو دلته موږ د تخيل له کلمې څخه کار اخلو. (خواجه نصير طوسي) په (معيار الاشعار) کې ويلي دي چې د شعر غرض تخيل دی.

تخيل يو داسې قوت دی، چې د انسان په ذهن کې د معلوماتو کومه ذخيره د تجرباتو، مشاهداتو او مطالعې جمع شوی وي، دا قوت ورته داسې ښکلی ترتيب ورکړي، چې يو نوی شکل ورته وبخښي او بيا يې د الفاظو په دا سې زړه راښکونکي پيرايه کې بيان کړي، چې د معمولي پيرايي نه بېخي يا ترڅه حده پورې بل شان وي.

سيد رسول رسا په دې هکله وايي:

«د انسان دماغ هېڅکله دا سې خيال نه شي پيدا کولای، چې د هغه خيالي عناصر يا اجزاوې په يو نه يو ډول په خارجي يا حقيقي دنيا کې موجود نه وي.»

تخيل چې د شاعرانه خيال کوم شکل تياروي، د دې شکل د عناصرو او اجزاوو ترکيب او ترتيب يا نوی شکل، تصوري او خيالي وي. خو ددې خيالي شکل يا خيالي خبرو اجزاوې يې په يو نه يو ډول، په خارجي يا واقعي جهان کې له وړاندې نه موجود وي. مثلاً که يو سړی د اس تشبيه د اور له درياب سره ورکړي يا چاته د سرو مرغۍ ووايي، نو په حقيقت کې، دا فرضيې او خيالي تشبيهات دي، چې له حقيقت سره هېڅ اړه نه لري او په خارجي جهان کې يې هېڅ وجود نشته، خو که چېرې موږ وګورو، نو اس، اور، درياب، سره او مرغۍ په حقيقت او خارجي جهان کې شته او دا چې يو ځای کړو، نو خيالي جهان ترې نه جوړ شي. د هر شاعر په ذات کې، د تخيل قوت ډېر ضروري دی او بغير له دې نه، هېڅوک شاعر نه شي جوړېدای.

تخيل د انسان له پاره خيالي ورکړه ده. د تخيل قوت د شاعر په کلام کې يو شان او يو اندازه نه وي، کله دا عمل په پوره جوش او زور کې ښکاره شي اوکله د دې عمل اثرات کمزوري وي. د تخيل قوت په فلسفې، ساينس او شاعرۍ کې يو شان په کار وي. دا د تخيل برکت دی، چې يو خوا په فل سفه او ساينس کې د ايجاد او م سئلو د حل کولو او لټون انکشاف وکړ او بل خوا شاعران م ضامين پيدا کوي، دا چې ساينسپوهان او فلسفيان شاعرانه مزاج نه لري، نو ځکه ځينې کسان وايي:

«د تخيل قوت له ساينس او فلسفې سره څه اړه نه لري.»

د لويو-لويو ساينسپوهانو او فلسفيانو د تخيل قوت دومره تېز وي، لکه څومره چې د يو لوی شاعر د تخيل قوت تېز وي. د (نيوټن) او (ارسطو) د تخيل قوت دومره قوي وو، لکه څومره چې د (هومر) او (فردوسي) وو، خو د دواړو په استعمال کې فرق دی. د تخيل اصطلاح ډېره اوږده تاريخچه لري. د لرغوني يونان له زمانې نه تر اوسه پورې، په دې باره کې ډېر بحثونه شوي دي.

«تخيل هغه استعداد يا قابليت دی، چې له واقعيت نه د لاس ته راغلو انطباعاتو پر ا ساس، په بشري شعور کې نوي حسي يا فکري انځورونه تخليق کړي، هغه چې په ټاکلي شېبه کې واقعي موجوديت نه لري.»

شاعرانه تخيل ته جامع، مانع او کامل تعريف نه شو ټاکلی، ه‍مد غه و جه ده، چې د تخيل څومره تعريفونه شوي دي ،اختلاف په کې موجود دی،خو نا سم ورته نه شو ويلای. له ډېرو زياتو تعريفونو نه وروسته، ډېر کره کتونکي او ليکوالان، په يوه اتفاق، لاندې تعريف ته هم نظري او هم فکره دي:

«تخيل د فطرت د موجوده اجزاوو د سر دو باره ترتيب او تنظيم نه، د يو نوي تصوير سازولو ته وايي او بيا په خصوصي توګه، د پنځوونکي (فنکار) احسا سات هم پکې شامل وي. تخيل له خيال نه جوړه شوې کلمه ده او دوه مفهومه خيال کول او خيال سازول يا جوړول. د لومړني مفهوم تر مخه، د يو شي په هکله معلومات حاصلول او په شعور کې د هغې ساتل او د دويم مفهوم ترمخه، د خيال ايجاد کول دي، چې بيا په دوو څانګو وېشل کېږي، لومړی دا چې د شيانو په تصوراتو کې تنظيم او ترتيب د اختراعي قوت کار دی.

په دنيا کې چې څومره لوی او نامتو شاعران تېر شوي دي، هغوی د کايناتو د لايتناهي فطرت په مطالعه کې ضرورغرق او ډوب وو. هر کله چې ورو-ورو د دې مطالعې عادت پيدا شي؛ نو هر يو شي ته په غور د کتو ملکه هم ومومي او د مشاهدې خزانه د خيال په کنجو کې، په خپله په جمع کېدو شي. د کايناتو د مطالعې د عادت پيدا کولو نه وروسته ،دو يمه ډېره ضروري مطالعه يا لټون د هغو الفاظو دی، د کومو الفاظو په وا سطه، چې شاعر خپل خيالات مخاطب ته رسول غواړي.

دا دويمه مطالعه هم ډېره ضروري ده، يو څو نورې خبرې د شعر د فکر په وخت په خيال کې ساتل ضروري دي، اول خيالاتو ته په ډېر صبر و تحمل د الفاظو جامه اغو ستل بيا د هغوی سنجول او د مطلب او معنا د ادا کولو په وخت کې، د هغې کمزوري لرې کول دي. بيا الفاظو ته داسې ترتيب ورکول دي، چې حقيقت ته پوره نږدې وي.

که موږ د ادبي اثر وبيو نه او توکو نه له مرغلرو سره ورته وښيو نو وبه وايو چې نثر د دغو مرغلرو د يو صندوق مثال لري، چې د هرې مرغلرې له پاره يې ځانګړی ځای ټاکل اړين نه دی، خو شعر داسې مرغلين هار ته ورته دی، چې ټولې مرغلرې يې په داسې مزي کې پېيل شوې، چې د هرې دانې له پاره خپل انډول او تناسب ټاکل شوی دی، په دې توګه، د شعر ژبه د نثر د ژبې په انډول ځانګړې ښکلا لري.

د انځور جوړونې ځواک، د تخيل د ځواک غور ترينه برخه ده، په بله وينا بشپړ شور او هيجان، چې د دې له پاره په کار اچول کېږي، بيلابيل احساسات، څېزونه او ازمېښتونه، چې په بيلابيلو م‍هالونو او ځايونو پورې اړه ولري، په يو ځانګړې شېبه کې سره غاړه غړې کړي او يا ورته يو له بله سمون ورکړي، له دې امله، د انځور جوړونې ځواک، تر يوې کچې پورې هماغه د تخيل ځواک دی.

«رشيدي» خيال د انساني ذهن د هغه فعاليت نوم ته وايي، چې له موجوده واقعيتونو څخه داسې څه ترسيم او تصوير کړي، چې له همدې ذهني چاپېريال پرته په حسي-محيط کې وجود و نه لري، له هغه ځايه، چې د تخيل جوړونکي عناصر حقيقي او حسي-څيزونه دي، ځکه خو ويل کېږي، چې هر تخيل په يوه نه په يوه بڼه په حقيقت کې ري‍ښه لري، د خيال او خوب ليدلو ترمنځ توپير همدومره دی، چې تخيل ارادي دی او د عقل له خوا رهبري کېږي، خو خوبونه غير ارادي او د ناشعور په ساحه کې پيښدونکي دي.

شاعران شعر د خيال بچی بولي، حال دا چې خيال د شعر سينګار کوونکی او د ښکلاييز ارزښت پنځوونکی دی، د شعر اصلي اډانه فکر جوړوي، د شعر محتوا، مفهوم او معنا د فکر له لوري رامنځته کېږي، يعنې فکر غواړي يو څه ووايي، يوه خبره وکړي، خو دا خبره وچه او يواځې خبره وي، تخيل چې ورته راشي، دا خبره شاعرانه کړي، سينګار يې کړي او ښکلي يې کړي، تخيل او خيال د نظم او نثر له پاره يو اړين توک دی، چې د نظم نه (شعر) جوړولای شي او د نثر نه (منثورشعر) جوړولای شي.

ارواښاد الفت وايي :

«خيال په ادب او شاعرۍ کې خاص مقام لري او په عواطفو کې ډېر تاثير پيدا کوي، که فرضاً کله موږ خبر واورو، چې په کوم ځای کې څه توپان پېښ شوی، چې دومره خلک مړه او دومره خلکو کورونه وران شوي دي. دا خبره را باندې دومره تاثير نه کوي، لکه چې د غه حاد ثه د کوم اد يب او شاعر له قلمه، چې تخيلي ځواک يې پياوړی وي واورم.»

په تخيل کې انځورګيرنه ضروري ده، مولينا الطاف حسين حالي وايي:

ژباړه: «زه د ښکلا په لټه وتی يمه، چې مې نظر پر کوم يو ښکلي لګي. دا خيالي انځور چې د رنګ و سندرې په بڼه راوځي، نو هنر شي او دومره ښکلی شي ،چې انډول يې په عام ژوند کې مونده نه شي، ځينې وخت انځورګيرنه او تخيل ،چې سره يو ځای شي، دا سې يو شکل اختيار کړي، چې په رښتياني ژوند کې پيدا کېدای نه شي.»

لنډۍ ده، چې:

جلۍ ګودر نه لمده راغله
لکه کوتره چې باران وهلي وينه

دغسې نور ډېر شعرونه شته دي، چې خيالي انځورونه يې دومره ښکلي وي، چې په رښتياني ژوند کې پيدا کېدای نه شي. ګړنې (فلوريک) عشقي کيسې دا راز خيالي انځورونه ډېر لري، چې د اتل چنغله تر ريښتينې نجلۍ څو وارې ښکلې وي.

بادامي سترګې، ماران زلفې، نرۍ ګلابي شونډې، منه زنه، چينار پوزه، دنګه غاړه او د مېږي تر ملا نرۍ ملا، خيالي ښکلا ده، چې همغه د شعر تر نړۍ محدوده ده، د حميد بابا دا دومره ښکلی محبوب تاسې په رښتياني ژوند کې موندلای شئ؟

خط پر مخ د صنم راغی
که سپوږمۍ شوه په هاله کې
دا يې غاښ په خوله کې زيب کا
که ژاله شوه په لاله کې

حميد بابا يه خيالي نړۍ کې الوتی دی او همدغه خيال دی، چې د دې شعرونو ته يې ښکلا وربخښلې ده.

په پورتني بيت کې حميد ماشوخيل، د تخيل څخه کار اخيستی، چې ورته مبتکر خيال ويل کېږي. بل هم مصور خيال دی: څه شی چې يو اديب يا شاعر په سترګو ويني او ورڅخه الهام اخلي، د خپل فکر او تخيل په مرسته هغو الفاظو کې د يو انځور په ډول لوستونکو ته وړاندې کوي. ورته مصور خيال ويل کېږي.

په لنډ ډول سره ويلی شو، چې (خيال) يا تخيل دشعر يو له اساسي توکو څخه ګڼل کېږي، شعر بې له تخيل څخه نه وي، که چېرې وي هم، هغه به يواځې د الفاظو او رنګينو کلماتو يو ليست بې خونده او بې کيفيته وينا وي. په عمومي ډول د خيال يا تخيل ډولونه په لاندې ډول دي.

۱. مبتکر خيال: ۲. مصور خيال: ۳. مفسر خيال:

۱. مبتکر خيال: دا هغه شی دی، چې د انسان ادراکو ته يو نوی صورت ورکوي او اکثره شاعران يې د تشبيه او استعارې په ډول په خپل کلام کې پيدا کوي يا په خيال او تخيل کې يو ابتکار او نويتوب منځته راوړلو ته مبتکر خيال وايي. که چېرې يو شاعر په خپل شعر کې د ابتکار او نوښت نه کار واخلي او دا سې خيال په خپل شعر کې راوړي ،چې مخکې چا نه وي راوړی، د هغه خيال نه بهتر دی، چې يو شاعر يې د تشبيهاتو او استعاراتو په راوړلو خپل شعر کې ښکاره کوي. خط پر مخ د صنم راغی، که سپوږمۍ شوه په هاله کې دا يې غاښ په خوله کې زيب کا، که ژاله شوه په لاله کې په ادب کې (خيال) يو ځانګړی توکی دی، چې پر عواطفو او احساساتو زياته اغېزه کوي. د خبر او پېښو په تعبير او تفسير کې د انسان ادراکو ته يوه نوې بڼه ورکوي. شاعران او اديبان د تشبيه او استعارې په ډول په خپل کلام يا وينا کې مومي، لکه د حميد بابا په پورته بيت کې. دې ته مبتکر خيال ويل کېږي.

د لاندې شعر ژباړه وګورئ، د دې شعر ښايست او ښکلا د تخيل له ابتکاره پيدا شوې او د تخيل ابتکار په اصل مضمون او د بيان په اسلوب کې ځای لري. په پښتو کې هم چا په ارزو باندې څه ليکلي، چې خلاصه يې داده.

هلته لرې د غره په لمن کې د لمر پلوشو ته څه شی ځلېده، ما ګومان کاوه چې کوم ډېر قيمتي څيز دی او له کوم معدن څخه کومه قيمت بها دانه راوتلې ده. په همدې ګومان ور روان شوم او ډېر خوشحاله وم، چې هلته ورسېدم ګورم، چې د ښيښې يوه ماته ټوټه پرته ده او نور هېڅ نشته، دا وه زما ارزو او د ارزو اغاز او انجام. په دې ژباړې کې يو نوښت او ابتکار په تخيل کې موجود دی، چې دې ته مبتکر خيال يا تخيل وايي.

۲. مصور خيال: کوم شی چې يو اديب او شاعر د زړه په سترګو ويني او پرې پوه شي، نو چې هغه د خپل خيال په مرسته تصوير کړي، مصور خيال بلل کېږي. مثال يې دادی: يو سړي د شپې له مخې تبې کولې او هره شپه به يې تر سبا پورې تبه وه، چا ورځينې د احوال پو ښتنه وکړه، چې تبه دې څه وخت او څنګه وي؟ ده وويل: يوه حياناکه ښځه ده، چې د شپې په توره پرده کې زيارت ته راځي او سبا له وخته بېرته ځي. ښاغلی رفيق د مصور خيال په اړه وايي: (( څه شی چې يو اديب په سترګوويني او ورڅخه الهام اخلي، د خپل فکر او تخيل په مرسته هغه په الفاظو کې د يو انځور په ډول لوستونکيو ته وړاندې کوي، مصور خيال بلل کېږي.))

مفسير خيال: کله چې يو اديب يا شاعر په يوه شي کې څه روحي يا ادبي کيفيت حس کړي او د هغې شي مادي ګټې نه، بلکې معنوي ګټې په شعر کې بيان کړي، ځينې اديبان د يو سيند يا يوه غره له ليدو ځينې داسې تاريخي واقعاتو ته لاړ شي، چې د زاړه او تېرو حوادثو لويوالي په کې وګوري. دې ته مفسر-خيال وايي. لکه د سيد رسول رسا په لاندې شعر کې:

په لمن د تورو غرونو د خيبر وادې راګيره
لکه تور ديوان چې کښينې له پرې نه ګير چاپېره
پټ پنهان هره دره کې د خېبر خوني داستان دی
يو تاريخ يې په مخ ليک دی يو يادا‌شت د تير دوران دی
ورو په ورو د غرونو خوا کې يو کاروان روان سفر کړي
دا راياد مې په زړګي کې د تېر شوي دور منظر کړي
يوه ورځ به چېرې دلته د محمود کاروان روان و
ګردغبار د ده د فوج به رسېدلی تر اسمان و
د تکبير نارې اوچتې اورېدلې دې جهان وي
د دې ملک ذرې ذرې به له دهشته په لړزان وي
په دې خاوره دې تېر شوي د بابر، غوري فوجونه
ابدالي، نادر راغلی پرې به فخر کړي دا غرونه

افغانستان د ډېرو غرونو درلودونکی هېواد دی، که چېرې موږ فکر وکړو په غرونو کې قيمتي کانې، مس، اوسپنه او ډول ډول نور داسې شيان پيدا کېږي، چې د هغې په خرڅولو سره ډېرې پيسې لاس ته راتلای شي.

که چېرې يو شاعر د همدې غر روحي يا ادبي کيفيت حس کړي او د غرو د منظرو يادونه په خپل شعر کې وکړي او مادي خوا يې په نظر کې ونه نيسي، دې ته مفسر خيال وايي. که چېرې د همدې غر په ليدلو سره شاعر تاريخي واقعاتو او حوادثو ته لاړ شي، لکه د (رسا) پورتنی شعر، دې ته هم مفسر خيال وايي. په لنډ ډول سره ويلی شو چې:

(خيال) يا تخيل د شعر يو له ا ساسي توکو څخه ګڼل کېږي. شعر بې له تخيل څخه نه وي، که چېرې وي، هم هغه به يواځې، د الفاظو او رنګينو کلماتو يو ليست بې خونده او بې کيفيته ويناوې.

چهارشنبه ۵ ــ ٦ګڼه  دریمه دوره، پرله پسې ګڼه ۲۵۳ــ ۲۵۴مه ګڼه ۱۳۹۵لمریز کال، د غبرګولي (جوزا) ۲٦مه نېټه،۱۳۳۷ هـ . ق. کال د رمضان المبارک۹ مه، ۲۰۱٦زېږدیز کال د جون ۱۵ . ۴ مخ

# زېرى

پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د کتونکې ډلې تر څارنې لاندې
مسؤول مدیر: څېړنوال محمدنبي صلاحي
مهتمم: څېړندوی عبدالاحد منګل
کمپوز او ډیزاین: م. ص.
zerai1316@gmail.com
facebook.com/Zeerai1316
۰۷۹۹۸٦۱۲۹۹

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز خپرنیز ارګان
د یوې ګڼې بیه: پنځه افغانۍ
پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، زنبق څلور لارې، نوی ښار،
افغانستان - کابل_
په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی، په خپله د لیکوالو په غاړه دی.

## د پښتو ژبې دوه سوچه لغتونه برېځر او ښېلی

ګل اغا ضمیري

پښـــتو ژبه د هندواروپایي ســترې ژبنۍ کورنۍ په اریایي  یا هندو اریاني ژبو او بیا له ۱۲ نه تر ۱۳ پورې پامیري او سیتي ژبو سره تړلې ژبه بلل شوې، چې په همدې ترتیب د اریاني څانګي په شـمال ختیځه څانګه چې باختري او بیا په ساکه او ساکي څانګو پورې اړونـده ده، د افغـانســـتـان یوه ډېره لرغونې ژبه ګڼل شوې .

د ویدا، اوســتا، مها بهارت، پهلوي او نورو زړو او لرغونو کتابونو او ډبرلیکونو کې د پښتو ژبې او ادب لرغونتیا تر میلاد هم ډېره پخوانۍ بلل شــوې ده. د پښـتو ژبې یوه ښـه ځانګړتیا داده، چې د نورو کلمو لغتونه هم په اســانۍ په کې ځای شــوي او ځینې پخوانۍ کلمې اوس هم په کې را پاتې دي.

ددې ژبې په نږدې ټولو لهجو کې داســې پخواني لغتونه اوس هم شته او کارېږي، چې لرغونتیا یې له پېړیو پېړیو اوړي او اوس هم خلـک وربـانـدې ګړېږي.د ژبې سوچه لغتونه ښایي د ښار په پرتله په کلیوالو ســیمو کې ډېر وي، ځکه په کلیوالو ســیمو کې د پردیو ژبو اغیز کم او ډېری خلک یې پر خپله مورنۍ ژبه خبرې کوي.

د پښتو ژبې یوه بله ځانګړتیا داده، چې په کلیوالو سیمو کې یې  سوچه لغتونه ډېر کارول کېږي. زه د

له پېړیو پېړیو اوړي او اوس هم خلک وربانديې ګړېږي.

په زړو پښتو ادبیاتو کې ډېر نومونه له زمانې سره تړل کېدل. د بېلګي په توګه: برمل (ماپښــین)، لرمل (مازیګر) او ترمل (ماښـــام.) ته ویل، همدارنګه د پښتو ژبې شاعر ښکارندوی غوري د سلطان غوري ( د ٦۰۰ هـ . شــاوخوا) په دربار کې، په خپله یوه قصیده کې د برېځر کلمې ته اشاره کړې ده.

که برېځر وي که غرمه وي که برمل وي
که لرمل که لمر لوېده که ترملونه

لکه څرنګه مو چې مخکې وویل، برېځر کلمه اوس هم په وردګو کې په مروجه لهجه کې کارېږي. د وردګو پـه اړه مشـــهور یونـانـي جغرافیـه لیکوال بطلیموس او د هغـه مهـال مؤرخـانو کـابـل ښـــار کابورا(kabolitae) او ځیني ګاونډۍ سیمي ارګردا (ارغند)، لوکرنا (لوګر) او بګردا په نومونو یادوي، چې له همدې بګردا څخه یې موخه وردګ دي.

که څه هم ځینو پخوانیو ژبپوهانو، نومونه د یوه علت زېږنده نه بلل، خو نویو فیلالوژیکو څېړنو دغه فکر له منځه یووړ او کله چې ژبپوهانو په بېلابېلو ژبو کې د کلیمو رېښـــې مطالعه کړې، ډېرې کلمې یې له یوې ریښې او یوه علت زېږنده وبللې.

## د ادبي او فرهنګي خبرونو کرونولوژي

څېړندوی محمد اصف احمدزی

**د بایزید روښان یو بل نوی اثر وموندل شو**

پروفیسـور عبدالخالق رشـید ته د سـتر افغان عارف بایزید روښـان د یوه نوي اثر د موندلو ویاړ په برخه شـوی دی. دا اثر "عریان الغیب"نومېږي او یواځینی نسـخه یې له نوموړي سره ده. دا اثر په فارسي دري ژبه ده، چې کچه یې ۱۲/۵ = ۲۲/۵ ده، ۱۱ کرښـې او ۲۸۲ مخونه لري. په نسـتعلیق خط لیکل شـوې ده. د دې اثر د لیکلو نېټه نه ده معلومه، خو دا ترې جوتېږي، چې دغه اثر د بایزید رو ښان په ژوند لیکل شوی دی. دغه نسخه چې مو ضوعات یې عرفان او تـصوف دی، د هغو پو ښتنو پرېښـتې ځـښـل شوې، چې د بایزید هادي یو شاګرد حسین له ده څخه کړې دي. هیله ده دا اثر ژر د څېړنې میدان ته راووځي او چاپ شي.
خالق رشید د جواهرلال نهرو پوهنتون د ژبو، ادبیاتو او کلتور پوهنځي د فارسي ـ پښتو او مرکزې آسیا د څېړنو د مرکز استاد دی.

**هسپانوي – پښتو قاموس آنلاین شو**

د قامو سونه ټکی کام انټرنټي پروژې د پښتو ژبې د نړیوالې ورځې په ویاړ یو هسپانوي پښتو قاموس آنلاین کړی دی. دا د پښتو ژبې له پاره لومړی هسپانوي قاموس دی چې ۵۳۰۰۰ هسـپانوي لغتونه په کې په پښـتو ژباړل شـوي دي. د یادولو وړ ده چې د هسـپانوي پښـتو دغه قاموس یواځې انلاین بڼه لري او په چاپي توګه نه شي ترلاسـه کېدلای. بله دا چې دغه قاموس اوسمهال امتحاني بڼه لري.
سرچینه: http://ahmadwali.achakzai.com

**(په ادبیاتو کې د اسطورې څېړنه) علمي – څېړنیزه پروژه دفاع شوه**

د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز علمي غړي څېړندوی عبدالغفور لېوال د غبرګولي په لومړۍ نېټه، د څېړنوالۍ علمي رتبې ته د لوړاوي په موخه، له خپلې علمي – څېړنیزې پروژې (په ادبیاتو کې د اسطورې څېړنه) څخه په بریالیتوب دفاع وکړه.

**«د هریوا په لمن کې» مشاعره ترسره شوه**

«د هریوا په لمن کې» مشاعره، چې هر کال په هرات کې جوړېږي، سږکال د هرات د اختیارالدین په لرغونې کلا کې د غبرګولي په ۷مه د لوېدیځ ادبي بهیر په نوښت جوړه شوه او د کابل او د لوېدیځو ولایتونو شاعرانو په کې ګډون وکړ، چې شمېر نږدې ۳۰۰ تنو ته رسېده.
دغه مشاعره سږ کال له یوه بل مناسبت سره هم تړلې وه، چې د پښتو نړیواله ورځ وه.
«د هریوا په لمن کې» مشاعره معمولاً د شعرونو لپاره مضمون نه ټاکي. ګډونوال یې په خپله خوښه حماسي، غنایي، یا تعلیمي شعرونه اوروي.
لوېدیځ ادبي بهیر په سیمه کې د ګڼو کلتوري او ادبي ټولنو ګډ مرکزي دفتر دی. په دغه مرکز کې د ملالۍ، سـپینې ادې، مشـعل هدایت، افغان محصـل، ویښ زلمیان او ځینو نورو ټولنو استازي راټولېږي. (سرچینه: بي بي سي)

**د پښتو نړیواله ورځ ونمانځل شوه**

د پښتو ژبې نړیواله ورځ په کابل کې د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت په مېلمستون کې د غبرګولي په نهمه ونمانځل شوه.

وردگو ولایت د یوې لرې پرتې او غرنۍ سیمې اوسیدونکی یم. زموږ په کلي کې اوس هم ډېر داسې لغتونه کارول کېږي، چې ښایي د پښتو ژبې سوچه او ډېر پخواني لغتونه ورته وویلی شو. د بېلګې په ډول : د برېځر او ښپلي دوه لغتونه، چې د پښتو اصلي لغتونه دي او زموږ په سیمه کې ویل کېږي، له تاسو سره شریکوم.

**برېځر: د پښتو ژبې یو سوچه او پخوانی لغت دی. برېځر اوس هم په کلیوالو سیمو کې استعمالېږي. [د برېځر کلمه، په لویه پکتیا، کورمه او وزیرستان کې هم کارول کېږي] برېځر د غرمې هغه وخت ته ویل کېږي، چې کروندګر د خپلو ځمکو څخه د غرمنۍ د دمې له پاره کور ته روانېږي.**

زموږ په سیمه کې، اوس هم خلک غرمې ته برېځر وایي او د برېځر کلمه ډېره عامه ده. په دې اړه د پښتو ولسي ادبیاتو یوه کاکړۍ هم شته، چې د برېځر کلمه په کې راغلې او په دې ډول ده :

برېځر دی که کښېنې
درکوم کوچ له سپینې خولې

زموږ په کلي کې د برېځر وخت پر یوه ډېره معلومېږي، چې خلک یې د برېځر تپۍ بولي. دا ډېره د کلي په ختیځ کې د یوه لوړ غره په ډډه کې پرته ده، کله چې پر دې ډېره د لمر وړانګې راشي او سیورۍ ترېنه لاړ شي، نو خلک پوهېږي چې برېځر دی. معمولاً یادې ډبرې ته د لمر وړانګې دولس بجې رسېږي.

ددې ژبې په نږدې ټولو لهجو کې، داسې پخواني لغتونه اوس هم شته او کارېږي چې لرغونتیا یې

**ښپلي: د پښتو ژبې یو بل سوچه او پخوانی لغت دی. ښپلي یو ډول کلیوال خواړه دي او په کلیوالي سیمه کې ورته ډېر ارزښت ورکول کېږي. دا خواړه زموږ په سیمه کې اوږده مخینه لري او د واده پر شپه یې ناوې او زوم ته ترتیبوي. دا خواړه د غوا د غوړیو ( زېړو غوړیو ) څخه جوړېږي. کله چې زېړ غوړي تاوده کړي او و چه ډوډۍ پکې ماته کړي، دې ته ښپلي ویل کېږي.**

په اوسني وخت کې د واده پر شپه ناوې او زوم ته عصري کېکونه برابرېږي، مګر زموږ په سیمه کې اوس هم د ښپلي دود شته دی او همدغه پخواني خواړه ورته جوړېږي، چې د ځانګړو مراسمو په ترتیب سره، د ناوې او زوم له لوري خوړل کېږي.

په کلیوالو سیمو کې د ښپلي له دود څخه دا څرګندېږي، چې د واده پر شپه د ناوې او زوم لپاره د کېک جوړولو مراسم اوږده مخینه لري او په افغانستان کې له پخوا راهیسې دود دي.

موږ په دې باور یو، که چیرې په کلیوالو سیمو کې څېړنه او تحقیق وشي، نو د پښتو ژبې ډیر سوچه لغتونه به ترلاسه او د لغاتو په برخه کې به زموږ له ژبې سره زیاته مرسته وکړي.

دا څېړنه ډېره اړینه او د ژبنۍ پانګې د خوندي کولو او ژغورلو لپاره ډېره مهمه ده او باید هر څومره چې زر کېږي، ترسره شي، ځکه چې پر کلیوالو سیمو د پردیو ژبو اغېز ورځ بلې ته زیاتېږي او هممدارنګه ،کلیوالو سیمو ته د نوې تکنالوژۍ په ورتګ سره، د پښتو ژبې د پخوانیو او سوچه لغتونو استعمال او کارونه له منځه ځي او ځای یې، د پردیو ژبو لغتونه نیسي.

## په سیمه ییزه او نړیواله کچه، د ادبیاتو سترې خزانې او ګټور ادبي شهکارونه، څنګه پښتو ته را وژباړو؟!

له درنو لوستونکو نه، د تېر په څېر، یو ځل بیا، په ډېر درنښت سره هیله کېږي، چې د پورتني موضوع په اړه مضمون را ته ولیکي، که دا مقاله کوچنۍ هم وي، خو چې دقیقه او علمي وي، «زېرى» یې په ورین تندي مني.

په دې غونډه کې د کوزې او برې پښتونخوا وېناوالو د پښتنو پر سیمو روانه جګړه د دوی د وروسته پاتې کېدو اصلي لامل وباله او ویې ویل، ترڅو چې پښتانه سره یو موټی نه شي، تر دې به لا هم وکړېږي.

د دې ناستې په پای کې د پښتنو د کلتور او مشرانو د انځورونو ننداړتون هم ننداړې ته وړاندې شو.

### په لوګر کې سنځل ګل دودیزه میله او مشاعره جوړه شوه

د لوګر سنځل ګل دودیزې مېلې او مشاعرې ته د لوګر، وردګو او غزني ولایتونو په ګډون د لویې پکتیا او ختیځو ولایتونو شاعران رابلل شوي وو.

په دې مشاعره کې چې د غبرګولي په ... نېټه جوړه شوې وه، د ولسمشر پیغام د استاد لعل پاچا ازمون له خوا ولوستل شو، چې په کې راغلي و، چې دغه مشاعرې او مېلې زموږ ادبي ارزښتونه خوندي کوي او دغه ولایت ته د نورو ولایتونو د فرهنګیانو راتګ هم د فرهنګي یووالي یوه ښکاره نښه ده.

له وېناوو څخه وروسته، آزاده مشاعره پیل شوه، چې د هېواد له نورو ولایتونو څخه راغلو شاعرانو هم په کې خپل شعرونه واورول؛ د مازیګر تر څلورو بجو روانه وه او بیا د کتاب شپه جوړه شوه.

دې مشاعرې ته د لوګر ولایت د مقام له خوا شپږ بېلابېل کتابونه (صرف بهایي په نوې بڼه، پټه خزانه، د ا ستاد بختاني سفرونه او سفرنامې، د واک لېږد بهیر، د خو شحال د جهانداری اثر) چاپ شوي وو، چې د مشاعرې ګډونوالو ته ډالۍ شول.

په دې مشاعره کې استاد سعدالدین شپون خپل خاطرات د طنز په ژبه ګډونوالو ته وړاندې کړل، چې د ګډونوالو له تاوده هرکلي سره مخامخ شول.

### د پوهاند میرحسین شاه د زوکړې نوي یمه کالیزه ونمانځل شوه

د کاندید اکاډمیسین پوهاند میر حسین شاه د زوکړې نویمه کالیزه د «حامد کرزي بنسټ» له لوري په کابل کې د غبرګولي په ۱۲مه ترسره شوه. په دې غونډه کې لسګونو پوهانو او فرهنګیانو ګډون کړی وو او وېناوالو د پوهاند میر حسین شاه د ژوند، شخصیت او فرهنګي هڅو په اړه خبرې وکړې.

پوهاند میر حسین شاه په ۱۳۰۴لمریز کال په کندهار ښار کې زېږېدلی، یو مهال په کابل کې پوهنتون کې د ادبیاتو پوهنځي استاد او مشر او په ۱۳۶۷ کال هېواد پرېښودو ته اړ شو او اوسمهال په امریکا کې ژوند کوي. نوموړی یو شمېر علمي، فرهنګي او تاریخي څېړنې کړي او اثار یې چاپ شوي دي.

### منې ګل کلنۍ مشاعره ترسره شوه

په میدان وردګو ولایت کې د منې ګل کلنۍ دودیزه مشاعره د غبرګولي په ۱۳مه ترسره شوه، چې له بېلابېلو ولایتونو سلګونه فرهنګیانو، شاعرانو او ځایي چارواکو په کې ګډون کړی و.

د اطلاعاتو او کلتور وزیر عبدالباري جهاني مشاعرې ته په خپل را استولي پیغام کې د فرهنګي او ټولنیزو اړیکو په پراختیا او فرهنګیانو په نږدې کولو کې د دا ډول مشاعرو ونډه مهمه بللې وه.

د وېناوالو له خبرو وروسته، مشاعره د عبدالغفور لېوال، ا ستاد حبیب الله رفیع، انور وفا سمندر او مطیع الله تراب په شعرونو پیل شوه، چې له بېلابېلو ولایتونو څخه راغلو شاعرانو په کې خپل شعرونه وړاندې کړل.

په عمومي ډول د مشاعرې په ډېرو شعرونو کې شعریت او هنریت ته پاملرنه شوې وه، ترنم او طنزیه شعرونو ته هم برخه ورکړل شوې وه.

### "بیا هغه مابښام دی" مشاعره ترسره شوه

د "بیا هغه ما ښام دی" تر سرلیک لاندې مشاعره په کابل کې د غبرګولي په ۱۳مه ترسره شوه. دغه مشاعره چې د میدیوتیک دفتر له خوا جوړه شوې وه، په کې شاعرانو خپل شعرونه لوستل.

### د زین الله منلي د ادبي خدمتونو په اړه علمي سیمینار ترسره شو

د لیکوال او ژباړونکي زین الله منلي د ادبي خدمتونو علمي سیمینار په کابل کې داطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا د غبرګولي په ۱۵مه جوړ شو.

په سیمینار کې د ولسمشر ـ محمد اشرف غني پیغام ولوستل شو چې په کې راغلي و، چې پیاوړی لیکوال، شاعر، ژباړن زین الله منلی د هېواد یو ډېر تکړ ه لیکوال او ښوونکی بلل کېږي چې د لیکوالۍ، دیني پوهې او ادبي آثارو، لوست ورکولو او ژباړې په برخو کې یې کلک او اوچت ګامونه اخیستي دي.

ورو سته د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مر ستیال زرد شت شمس، دغه راز نجیب الله منلي، اکاډمیسین سلیمان لایق، پوهاند رازقي نړیوال، ا ستاد حبیب الله رفع، څېړندوی سید نظیم سیدي، اسد الله ولوالجي او صدیق الله بدر په وار سره د زین الله منلي د کارنامو او د دیني او ادبي آثارو په باره کې خپلې مقالې وړاندې کړې.

ورپسې زین الله منلي ته د هغه د خدمتونو په ویاړ لونګۍ ور په سر شوه.

منلی په ۱۳۰۳ لمریز کال کې د ننګرهار ولایت د روداتو ولسوالۍ په کان کلي کې زېږېدلی دی. یو مهال د پښتو ټولنې غړی هم و. نوموړی تر اوسه پورې ۳۰ دیني او ادبي آثار لري.

### په ننګرهار کې د ښځینه شاعرانو مشاعره وشوه

په ننګرهار ولایت کې د "کور ښځینه ادبي ټولنې" په نو ښت او ننګرهار والي په همکارۍ د سلګونو ښځینه شاعرانو په ګډون د غویي په شلمه مشاعره ترسره شوه. دغه مشاعره چې د جلال اباد ښار په بي بي حوا لېسه کې جوړه شوې وه، په کې د کور ادبي ټولنې له غړو سربېره د ننګرهار والي او سلګونو ښځینه شاعرانو ګډون کړی وو. د کور ښځینه ادبي ټولنې مشرې مقدسې احمدزۍ په وینا، د ننګرهار ولایت له ولسوالیو سربېره د جلال اباد ښار په مرکز کې ورسره په ټولنه کې ۴۵۰ ښځینه شاعرانې شتون لري.

په دې مشاعره کې د ګڼ شمېر ښځینه شاعرانو له لوري لیکل شوي شعرونه ګډونوالو ته واورول شول.